# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| اجتماعی | Social |
|---|---|



انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان


۱۲ اگست ۲۰۱۲

## شتمن غلا کوي او د دولت لخوا معاف کيږي

کاکا صفدر چې د ديګ بخار جوړولو په کارخانې کې کار کوو، له ساعتونو کار وروسته ستړی ستومانه کور ته راغی او آواز يې کړ:

ـ د علي مورې، چيرې يې؟ ډير ستړی يم. يوه پياله چی خو راوړه، چې دمه شم!

ـ دا دی درغلمه د علي پلاره. د علي پلاره پوهيږئ، مخکې يې په خبرونو کې وويل چې د دولت مشر ځينو کسانو ته د پيسو معافي کړی ده، انشاءالله چې هغه ۲۰۰۰ افغانی چې تا له کارخانې قرض کړي، هغه به هم معافې شي، يوه پوښتنه خو به دې کړی وی.

ـ د علي مورې، مه ساده کيږه. وربانديې خبر يم. دا معافي د کارګرانو لپاره نه ده. هغه سرمايه دارانو چې له بانک.... نوم يې څه و؟.... اوف.... له ياده مې لاړ.... بلا مې ورپسې.. . پيسې اخيستې وی، که چيرې په دوه دريو مياشتو کې خپلې پيسې ورکړي، نو ۴۰۰ ميليونه ډالره به ورته معافې شي.

ـ ښه... نو دا خبره ده. هغه ستا خبره سمه ده چې دا دولت د غريبانو او کارګرانو دولت نه دی، د سرمايه دارانو دولت دی او ته وګوره چې سرمايه دارانو ته څه ويلې نشي. دې سرمايه دارانو ميليونه ميليونه ډالرې غلا کړی او اوس ورته معافي کيږي. خير...!